# په نړۍ کې زما کور (دریمه درجه)

| | |
|---|---|
| توضیحات | زده کوونکي به په لویه نړۍ کې د یوه فلیپ بوک کتاب په ډیزاین (طرحه) کولو سره خپل کور د تدریجي زوم کولو په مټ د جغرافیایي موقعیت له پلوه په ټول شمسي نظام کې معلوم کړي. |
| مخکېنۍ پوښتنه | آیا تاسو کولی شی زموږ په کایناتو کې خپل کور رسم کړی؟ |
| ټولټال اړین وخت | په ۵ ورځو کې ۵ ساعته |
| د اړتیا وړ سرچینې | ورقه، پنسل، رنګونه او داسې نور |
| د زده کړو پایلې | 1. د فاصلې او اندازې مفاهیم<br>2. په لویه نړۍ کې د یوه شخص د ځای پېژندل<br>3. د ځایونو تشریحي ځانګړتیاوې بیانول لکه، طبیعي ځانګړنې، خصوصیتونه، نفوس، تاریخي ځایونه او داسې نور |
| مخکینۍ زده کړې | د خپل ښار، هیواد او لوی وچې (براعظم) په اړه ابتدائي معلومات |

## لومړۍ ورځ

نن ورځ به تاسو د خپل سړک او کور په اړه معلومات ترلاسه کړی. تاسو به خپل فلیپ بوک جوړ کړی چې په هغه کې به تاسو خپل کور، کوڅه، سړکونه، کلي، ښارونه، ایالتونه، هیواد، قاره (لویه وچه)، سیاره او شمسي نظام په ښنه کړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۳۰ دقیقې | لومړۍ صفحه: خپل کور رسم کړئ. یوه وړه ورقه پرې کړئ چې ۱۰ سانتي متره اوږدوالی او پلنوالی ولري.<br>• داسې پوښتنې وکړئ:<br>• له بهر څخه ستاسو کور څنګه ښکاري؟ آیا هغه په یوه بیلډینګ کې دی؟ ستاسو کور څو منزله لري؟ تاسو په کوم منزل کې اوسیږی؟ ستاسو په کور کې څومره خلک دي؟ آیا تاسو کولی شی هغوي په کړکیو یا په دروازو کې رسم کړی؟ ستاسو د کور رنګ څه ډول دی؟ آیا ستاسو کور ځینې لري؟ ستاسو د کور دروازه څه رنګ ښکاري؟<br>• لومړۍ صفحې ته یو نوم ورکړئ او د خپل کور په اړه یو څو جملې ولیکئ:<br>دا د --------- کور دی چې په ---------- سړک باندې پروت دی.<br>• تاسو کولی شی د خپل کور او یا هم سړک په اړه یو څه نور معلومات هم ولیکی. د بیلګې په توګه، ستاسو د کور د طبقو د تعداد په اړه، ستاسو په کور کې د اوسیدونکو په اړه، ستاسو د کور په جوړولو کې د مختلفو شکلونو او رنګونو په اړه او داسې نور. همدا راز، د سړک په اړه تاسو کولی شی ووایی چې څومره ازدهام لري، او یا کوم نور تشریح کوونکي خصوصیتونه |

| | |
|---|---|
| ۳۰ دقیقې ● | د خپل سرک د نفوس په اړه يو تحليل بشپړ کړئ:<br>1. د خلکو تعداد<br>2. جنسيت<br>3. د ښوونځي په عمر د ماشومانو تعداد<br>4. د ۶۰ کلونو څخه د زيات عمر لرونکو شمير<br>5. دنده يا وظيفه |
| ● | ددغو ټولو پوښتنو لپاره، د اټکل متوسط، تکراري او موډ شميرې وليکئ (د ۵ پوښتنې په استثناء سره) |
| ● | اوسط: منځنی عدد. د بيلګې په توګه: ۶ = ۵ / (۹ + ۶ + ۶ + ۵ + ۴) |
| ● | منځنی: منځنی عدد هغه عدد دی چې د عددونو په منځ کې راځي: د بيلګې په توګه: ۹، ۶، ۶، ۵، ۴ – منځنی عدد په نورو عددونو کې د وسط عدد دی (۶) |
| ● | موډ: هغه عدد چې په يوه ټولګه کې له ټولو څخه ډير تکرار شوی وي |
| ● | ولسوال ته يو راپور وليکئ ترڅو هغوی د هغو تحليلونو په اړه خبر شي چې د نفوس د تحليل په اړه زده کوونکو ترسره کړی دی. ځينې کومکي پوښتنې ممکن په لاندې ډول سره واوسي:<br>د کوويډ۱۹ په دغو شرايطو کې څومره زاړه خلک پاملرنې ته اړتيا لري؟ ستاسو سرک څومره ګڼه ګوڼه لري؟<br>ستاسو په منطقه کې تر ټولو عام مصروفيت يا شغل څه دی؟ په دې شغل کې څه شيان شتون لري؟ |

**دوهمه ورځ**

نن ورځ به تاسو د خپل کلي او يا هم ښار په اړه معلومات ترلاسه کړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعاليت او توضيحات |
|---|---|
| **۳۰ دقیقې** | ● دوهمه صفحه: د مخکيني ورقي څخه يو څه لويه ورقه پرې کړئ چې اوږدوالی او پلنوالی يې ۱۲ سانتي متره واوسي.<br>● هغه کلي يا ښار رسم کړئ چې ستاسو سرک پکې شتون لري.<br>● لاندې پوښتنو ته ورته پوښتنې وکړئ:<br>ستاسو کلی او يا هم ښار څومره ګڼه ګوڼه لري؟ کچيرته ستاسو په کلي يا ښار کې ډير خلک شتون ولري، تاسو بايد هغوی رسم کړی. آيا پدې ښار کې کوم مشهور تاريخي ځايونه شته چې د کتلو وړ واوسي؟ مثلاً، يو تاريخي ځای، يو طبيعي ځانګړنه (د اوبو يو ډنډ، سيند، غونډۍ، غر، ساحل، پارک، دښته)، يو اړين د ليدلو ځای او داسې نور. په دې ښار کې ستاسو لپاره تر ټولو په زړه پورې ځای کوم دی؟ ښوونځی، د لوبو ميدان، او داسې نور.<br>● دوهمې صفحې ته يو نوم ورکړئ او د خپل ښار يا کلي په اړه يو څو جملې وليکه. تاسو کولی شی له لاندې چوکاټ څخه کار واخلی:<br>دا د ------------- کور دی چې په ----------- سرک باندې پروت دی په --------- کلي او يا هم ښار کې. د هغه څه په اړه معلومات ورکړئ چې ستاسو کلی او يا هم ښار ځانګړی کوي (لکه، طبيعي ځانګړتياوې، اړيني ساحې، تاريخي ځايونه) او تاسو د خوند اخيستلو لپاره کوم کارونه ترسره کوی؟<br>د بيلګې په توګه: زما په ښار کې يو لوی د اوبو ډنډ يا بند د روش په نام دی او زما خوښيږي چې په اوړي کې لامبو وهلو ته ولاړ شم. |
| **۴۰ دقیقې** | ● د خپل ښار يا کلي په اړه د سياحت يو بروشر چمتو کړئ ترڅو وکولی شی ليدونکي خپل کلي يا ښار ته ورتګ لپاره تشويق کړی. همدا راز، تاسو بايد په دې بروشر کې د ځينو هغو نقطو په اړه |

| | |
|---|---|
| | توضيحات ورکړئ چې ليدونکو ته اړينه ده ترڅو پرې پوه شي، او تاسو بايد ددې په اړه چې هغوی د خپل راتګ په وخت کې څنګه کولی شي خپل ساعت تېر کړي.<br>• دا بروشر بايد لاندې نقطې له ځانه سره ولري:<br>- تاريخي/ طبيعي ځايونه: په خپل ښار يا کلي کې تر ټولو اړين ځايونه. د دغو تاريخي ځايونو په اړه يو څه لږ معلومات وليکئ. مثلا، دا تاريخي ځايونه چا جوړ کړي دي؟ هغه کله جوړ شوي دی؟ تاسو څنګه کولی شی د طبيعي ځايونو څخه خوند واخلئ؟<br>- په ښار يا کلي کې د يو ځای څخه بل ځای ته د سفر کولو بيلا بيلې لارې.<br>- ستاسو په ښار يا کلي کې ترټولو ډېر مزيدار خواړه کوم دي؟ |

## دريمه ورځ

نن ورځ به تاسو د خپل ايالت/ولايت په اړه معلومات ترلاسه کړی.

| وړانديز شوی وخت | فعاليت او توضيحات |
|---|---|
| ۳۰ دقيقې | 1. دريمه صفحه: له مخکينيو ورقو څخه يو څه لويه ورقه پرې کړئ. ددې ورقې اوږدوالی او پلنوالی بايد ۱۵ سانتي متره واوسي.<br>2. د هغې ولسوالی يا ايالت نوم وليکئ چې ستاسو د کور سړک پکې شتون لري؟ ستاسو کور بايد په کوم لورې ته شتون ولري؟<br>3. لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ: ستاسو د کلي يا ښار جغرافيايي يا فطري موضوعاتو په اړه (د غرونو سلسله، غونډۍ، سيند، دښته او داسې نور) آيا ستاسو د کلي او يا هم ښار خواته کوم بل کلی يا ښار شتون لري چې تاسو وکولی شی هغه هم په نښه کړی؟ آيا ستاسو په ايالت کې کوم ځانګړي محصولات شته؟ آيا تاسو کولی شی هغه رسم کړی؟ آيا ستاسو په ښار يا کلي کې کوم ځانګړي جامې شته چې خلک يې اغوندي؟<br>• لارښوونه: کچيرته تاسو د خپل ايالت/ولايت د شکل په اړه معلومات نه لری، تاسو کولی شی هغه د خپلې خوښې په کوم شکل سره رسم کړی. د بيلګې په توګه: دايره، مثلث، مستطيل، او داسې نور.<br>• دريمې صفحې ته نوم ورکړئ او د خپل ايالت/ولايت په اړه يو څو جملې وليکئ چې لاندې نقطې هم پکې شاملې وي:<br>دا د ---------- کور دی چې په --------- سړک باندې په ------- ښار/کلي کې او په --------- ولايت/ايالت کې دی.<br>• د خپل ولايت يا ايالت د ځانګړتياو په اړه يو څو توضيحي جملې وليکئ چې ستاسو د خوښې خواړه پکې شامل وي، ژبه، او يا هم د لباس په اړه توضيحات ورکړئ. همدا راز، تاسو کولی شی لاندې نقطې هم پکې يادې کړی:<br>خواړه، ژبه، جشنونه، ملي جامې، نڅا، حيوانات او داسې نور. |
| ۳۰ دقيقې | • په خپل ايالت/ولايت کې د موسم له لوري تر ټولو ډېرو ځورونکو آفتونو په اړه يو مختصر راپور وليکئ. همدا راز، په دې راپور کې د هغو زيانونو په اړه هم معلومات وليکئ چې د طبيعي حوادثو له مخې منځ ته راغلي وي، او هغوی اوسمهال څنګه تنظيم کيږي. په همدې ډول، تاسو بايد د داسې آفتونو د مخنيوي لپاره يو څو وړانديزونه وليکئ. د زيان د پراخوالي په اړه يادونه اړينه ده او دا هم اړينه ده چې يو څو داسې وړانديزونه وليکل شي چې د يوه آفت د رامنځ ته کيدو په وخت کې بايد څه وشي. |

| | |
|---|---|
| • د بیلګي په توګه: ډیر باران د شدیدو سیلابونو لامل ګرځي. او شدید سیلابونه د فصلونو د مینځه وړلو او حتی د ژوند د لاسه ورکولو لامل ګرځي. ددې د مخنیوي لپاره ممکن لاندې وړاندیزونه ورکړل شي:<br>باید د اوبو ویستلو چینلونه ډیر شي، د باران د اوبو مهارول او داسې ور. | |

## ځلورمه ورځ

نن ورځ به تاسو د خپل هیواد په اړه معلومات ترلاسه کړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۳۰ دقیقې<br>• | ځلورمه صفحه: د مخکینیو صفحو څخه یو څه اندازه لویه صفحه پرې کړئ چې ۱۷ سانتي متره یې اوږدوالی او پلن والی واوسي. |
| • | هغه هیواد رسم کړئ چې ستاسو ولایت/ایالت پکې شتون لري. خپل کور په ولایت/ولسوالی کې رسم کړئ او د رسامی په وخت کې دې ته پاملرنه وکړئ چې ستاسو کور د ولایت په کوم لور کې موقعیت لري. |
| • | د لاندې پوښتنو په څیر پوښتنې وکړئ:<br>ستاسو په هیواد کې څومره ګڼه ګونه ده؟ کچیرته ستاسو په هیواد کې ډیر خلک وي، تاسو باید هغوی رسم کړئ. آیا داسې کوم حیوان، ګل او یا هم کوم نبات شته چې ستاسو هیواد کې ډیر ځانګړی وي؟ آیا تاسو کولی شی هغه رسم کړئ؟ آیا ستاسو په هیواد کې کوم ځانګړي ملي ځایونه شته چې باید د هغه په اړه پوه شو؟<br>مثلا، یو تاریخي ځای، یوه لویه طبیعي ځانګړنه (لکه یو لوی د اوبو ډنډ، سیند، غونډۍ، غر، ساحل، پارک، دښته)، کوم اړین د لیدلو ځای؟ ستاسو په هیواد کې ملي جامې، خواړه، او محصولات کوم دي؟ آیا تاسو کولی شی هغه رسم کړی؟ |
| • | لارښوونه: کچیرته تاسو د خپل هیواد د شکل په اړه معلومات نه لری، هغه د خپلې خوښې په یو شکل کې رسم کړئ. د بیلګې په توګه: یوه دایره، مثلث، مستطیل شکل او داسې نور. تاسو باید ایالت/ولایت او ولسوالی هم په نښه کړی. |
| • | ځلورمي صفحې ته نوم ورکړئ او په همدغې صفحه کې د خپل هیواد په اړه یو څو جملې ولیکئ چې لاندې نقطې هم له ځانه سره ولري: دا د -------- کور دی چې په ------ سړک کې د ---------- ښار/کلي کې او په ---------هیواد کې شتون لري.<br>زده کوونکي به د خپلو یو څو میلي سمبولونو (نښو) نومونه ولیکي چې په هغو کې باید د دوی د هیواد ملي حیوان، ملي ګل، ملي سرود، ملي مشر، او ملي بیرغ واوسي. د خپل هیواد په اړه یو څو داسې شیان ولیکئ چې تاسو فکر کوی هغه ډیر ځانګړي او یا هم خاص دي. د بیلګې په توګه، خواړه، ژبه، لباس، نڅا او داسې نور. |
| ۳۰ دقیقې<br>• | تاسو یو انتخاب لری چې د لاندې واردو څخه یو یې ولیکی: |
| | - په یوه بین المللي مجله کې یو کوچنی راپور چې ستاسو د هیواد تر ټولو ډیر مشهور او اړین جشن پکې تشریح شوی وي. او د همدغه جشن د نمانځلو د لامل او وخت په اړه بایید پکې مالومات واوسي. په همدغه راپور کې باید، د خلکو د لباس، خواړو او سندرو په اړه معلومات هم واوسي. او داسې نور. |

| | |
|---|---|
| - او یا هم د طبیعت د مجلې په اړه لیکل کړئ چې په هغې کې مو اړینو طبیعي ځانګړتیاو په اړه چې تاسو پرې پوهیږی او د هغو د کارولو په اړه لیکنه وکړئ. د بیلګې په توګه، سیندونه: خلک څنګه سفر کوي؟ اوبه او خاوره د زراعت لپاره کارول کیږي او داسي نور.<br>- یا تاسو کولی شی، د یوې اړینې موضوع په اړه چې تاسو فکر کوی ستاسو هیواد ورسره لاس په ګریوان دی یو بین المللي مشر ته یو راپور ولیکی او د هغې ستونزې د حل لپاره ورته وړاندیزونه ولیکئ: د بیلګې په توګه، ککړتیا، د نفوس اندازه، او داسي نور. همدا راز، ستاسو په راپور کې باید ددغې ستونزې د رامنځته کیدلو لاملونه هم شتون ولري او په همدې ډول سره دا ولي ترسره کیږي، ددې عواقب (پایلې) به څه واوسي، د اوس مهال لپاره ددې ستونزې د مخنیوي لپاره څه فعالیت ترسره کیږي او همدا راز هغه وړاندیزونه چې زده کوونکی یې لري. | |

## پینځمه ورځ

نن ورځ به تاسو د خپلې قارې (لویې وچې) او نړۍ په اړه معلومات ترلاسه کړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | • پینځمه صفحه: زده کوونکي به نسبت مخکینیو صفحو ته یو څه لویه صفحه (ورق) پرې کړي چې اوږدوالی او پلنوالی یې ۲۰ سانتي متره واوسي.<br>• د نړۍ او د هغې قارې (لویې وچې) نقشه رسمه کړئ چې ستاسو هیواد پکې شتون لري. په خپله قاره کې خپل کور رسم کړئ. کله چې مو کور رسم کاوه، هغه د خپل مکان په اساس چې د قارې په کوم طرف کې تاسو موجود یاست، رسم کړئ.<br>• د لاندې پوښتنو په څیر پوښتنې وکړئ:<br>آیا تاسو به همدې قاره کې کوم نور هیوادونه هم پیژنئ؟ آیا کولی شې چې هغه هیوادونه په نښه کړی او یا هم نومونه ورته ولیکی؟ آیا تاسو ددغو نورو هیوادونو په اړه په څه پوهیږئ؟ کوم مشهور او لوی ملې ځای شته؟ آیا په دې قاره کې کوم لوی طبیعي ځانګړنه شته لکه، کوم مشهور غر، سیند، او یا هم دښته؟ دا شیان په دوه بعدي شکلونو کې رسم کړئ او یا هم د ځمکې په همواره توګه وړاندیز چمتو کړئ. همدا راز، د اوبو لویې برخې په اسماني رنګ باندې رسمي کړئ، او ځمکه (وچه) په زرغون رنګ باندې رنګ کړئ. په همدې ډول، هغه قاره چې ستاسو هیواد پکې شتون لري په نښه کړئ. |
| | • لارښوونه: کچیرته تاسو دا نشی لیدلی یو چوکاټ جوړ کړئ او به هغه کې بیلابیلې لویې وچې په نښه کړئ: افریقا، آسیا، اروپا، شمالي امریکا، سویلي امریکا، آسترالیا، قطبي او انترکتیکا او د بحرونو په اړ: اقیانوس اطلس، او د انترکتیکا سمندورنه: اتلانتیک، اقیانوس ساکن او داسي ور<br>• لارښوونه: کچیرته تاسو د خپلې لویې وچې د شکل په اړه مالومات ونلرئ، تاسو کولی شی خپله قاره په یوه داسي شکل سره رسم کړئ. د بیګلې په توګه: یوه دایره، یو مثلث، او یو مستطیل شکلونه او داسي نور.<br>• پینځمې صفحې ته نوم ورکړئ او د خپلې لویې وچې په اړه یو څو جملې ولیکئ چې لاندې موضوعات هم له ځانه سره لري؟<br>دا د ---------- کور دی چې په ------- سړک باندې په --------- کلي او ښار کې --------- په -------- هیواد او د نړۍ په ----------- لویه وچه چې زموږ په سیاره کې دی، دلته شتون لري.<br>د لویې وچې په اړه دوه داسي شیان ولیکه چې تاسو یې د ځمکې په اړه پیژنی. د بیلګې په توګه، ولې ځمکه آسماني او زرغونه ده؟ نور عمده بحرنه او د سیندونه کوم دي؟ د ځمکې شکل په کوم ډول دی؟ او داسي نور. |

| | |
|---|---|
| ۳۰ دقيقي | • يو وړوکی خط داسي يو چاته ولیکئ چي هغه مخکي هيڅکله هم ځمکي ته نه وه راغلی. په دي خط کي، د لويو براعظمونو او د ځمي په اړه ليکل وکړئ. دا خط بايد د ۳ مختلفو کټګوريو په اړه معلومات ولري. د بيلګي په توګه:<br>- بيلابيل حيوانات (د انسانانو په شمول چي د ځمکي په بيلابيلو برخو کي موجود دي) لکه، په ځمکه باندي، په هوا کي، په اوبو او هوا کي او داسي نور. تاسو بايد همدا راز ددي په اړه هم ليکل وکړئ چي څه شی دا ټول حيوانات سره متفاوته کوي او له مونږ ټولو سره مرسته کوي ترڅو په صلح آميزه شکل سره ژوند وکړو.<br>- مختلف موسمونه، د هوا حالت، او ورځ او شپه: دا ممکن د ځمکي د حرکت په اړه وي چي د شپي او ورځي د جوړيدلو لامل ګرځي، د مختلفو موسمونو په اړه وضاحت بلخصوص د جغرافيايي عرض (پلنوالي) او د جغرافياي اوږدوالي له امله په مختلفو قارو/هيوادونو کي او داسي نور.، د موسم مختلف جزؤنه او د هغوی د را منځ ته کيدلو لاملونه او داسي نور.<br>- په نړۍ کي مختلف ډول خواړه او په هغوی کي کوم مختلف محتويات کارول کيږي، دا خواړه څنګه چمتو کيږي، او د هغوی د مختلفو ذايقو په اړه او داسي نور. |
| ۱۰ دقيقي | • اوس دا ټولي ۵ ورقي د سنجاق او يا هم د کوم بل نښلونکي په واسطه يوځای بندي کړه.<br><br> |
| ۱۰ دقيقي | • د خپل کتاب په پوښ باندي يو دخط پاکټ جوړ کړه چي ستا پته پري د لاندي نقطو په شمول سره ولري:<br>- نوم<br>- کور<br>- سړک/کوڅه<br>- منطقه/کلی/ښار<br>- آيالت/ولايت<br>- هيواد<br>- براعظم (لويه وچه)<br>- سياره<br>- شمسي نظام |

**۱۰ دقيقي** هغه کتاب چي تاسو چمتو کړ ولولئ او له خپلي کورنۍ سره يي شريک کړئ ترڅو هغوی ته په لويه نړۍ کي د خپل مکان (ځای) او د ټولو بيلابيلو راپوروونو او ليکونو په اړه معلومات ورکړئ.

د ټولو هغو ځايونو د شکلونو په اړه پوهاوی چې زده کوونکی پکښې اوسيږي.

## د غني کووني اضافي فعاليت

زده کوونکي همدا راز کولی شي د يوې ساده ورقې پر ځای يو ۳ بعدي ماډل جوړ کړي.

## د ساده کووني لپاره بدلونونه

- زده کوونکي کولی شي په کور، سړک، ښار، ايالت/ولايت او قارې (لويې وچې) باندې تمرکز وکړي او د هغوی اصلي ځانګړتياوي تشريح کړي.